# د عثماني خلافت پای

لیکنه او څېړنه :

نصرت الله ( مظلومیار )



Ketabton.com

کال : ۱۳۹۸ / ۱ / ۱۳

(c) ketabton.com: The Digital Library



ډالۍ !

خپلې ګرانې مور او پلار جان ته چې زما په روزنه کې

یې نه ستړې کېدونکې هلې ځلې کړې دي ، او

زه یې تر دې ځایه را رسولی یم .

(c) ketabton.com: The Digital Library



# فهرست

موضوع | مخ


عثماني خلافت ته یوه لنډه کتنه ........................................ ۳

د سلطان عبدالحمید شخصیت ........................................ ۷

د سلطان عبدالحمید واک ته رسېدل ........................................ ۸

اساسي قانون ........................................ ۹

مدحت پاشا ، فکر او کړنې يې ........................................ ۱۱

د ترکیې او روسیې اړیکې ........................................ ۱۲

د کرېمیا جګړه او د بالکان د ملتونو پاڅون ........................................ ۱۳

د ترکیې او روسیې ترمنځ د (۱۸۷۷م) کال جګړه ........................................ ۱۵

د سان ستېفانو تړون ........................................ ۱۷

د برلین تړون ........................................ ۱۸

پان اسلامېزم ........................................ ۲۰

د سلطان له واکه ګوښه کول ........................................ ۲۲

ځوان ترکان ........................................ ۲۳

مأخذونه ........................................ ۲۷

(c) ketabton.com: The Digital Library



# عثماني خلافت ته یوه لنډه کتنه

عثماني خلافت په نړۍ کې د مسلمانانو د تېرو شویو خلافتونو څخه وروستی خلافت دی ، چې په اوسنۍ ترکیه کې رامنځته او همدلته له منځه یوړل شو . ۳۴ عثماني واکمنان د ۱۲۹۹م کال څخه تر ۱۹۰۹م کال پورې واکمن وو . د عثمانیانو بنسټ ایښودونکی عثمان د ارطغرل زوی دی ، چې د پلار د مرګ څخه وروسته په ۱۲۸۸م کال کې واک ته ورسید .

تاریخ ترکیه کې داسې لیکي :

د ارطغرل د وفات (۱۲۸۸م) کال نه وروسته د هغه مشر زوی عثمان د هغه ځای ناستی شو . په ۱۲۸۸م کال کې د سلجوقي سلطان د یوه فرمان له مخې عثمان د سرحدي سیمو د حاکم په توګه وټاکل شو . (۵ : ۱۳)

د عثمان په لاس عثماني ډلې د بېزنطي دولت د امکاناتو او وسایلو په مټ له قبیلوي اسلوبه دولتي اسلوب ته واوښتې ، په عثمان پسې یې زوی اورخان (۱۳۲۷م) کال پر تخت کېناست، ورپسې لومړنی مراد ، بیا یې زوی بایزید ، ورپسې محمد بن بایزید ، بیا دوهم مراد بن بایزید او ورپسې محمد الثاني د قدرت واک په لاس کې ونیو ، دغه محمد الثاني په تاریخ کې د محمد الفاتح په نوم شهرت لري ، چې په (۱۴۵۱م) کال کې واک ته ورسېد ، په (۱۴۵۳م) کال کې یې قسطنطنیه فتح کړه ، بېزنطي امپراطور (یوولسم قسطنطین) یې وواژه او په دې توګه یې بېزنطي امپراطوري په بشپړه توګه له پښو وغورځوله . (۲ : ۱۲۱)

قسطنطنیه د آسیا د نیولو دروازه وه ، رومیانو څو ځله د همدې لارې د آسیا د نیولو لپاره حملې کړې وې . د قسطنطنیې د نیولو لپاره د صحابه کرامو له وخته کوښښونه شوي وو . د فاتح له حملې څخه مخکې نږدې یوولس ځلې مسلمانو مشرانو حملې کړې وې ، خو یوه هم نه وه بریالۍ شوې . فاتح د (۱۴۵۳م) کال د می په میاشت کې حمله وکړه او دغه سیمه یې ونیوله او پلازمېنه یې د اناطولیې څخه استانبول ته ولېږدوله .

د فاتح څخه وروسته په عثمانیانو کې بل مهم شخص سلطان سلیم دی ، چې نوموړي وکولای شول د عثمانیانو امپراطوري لا پراخه کړي ، د فارس ځینې سیمې ، مصر ، شام ، او حجاز په بشپړ ډول ونیسي او د خلافت اعلان وکړي .

(c) ketabton.com: The Digital Library



د تاریخ ترکیې لیکوالان لیکي :

کله چې سلطان سلیم د خلافت اعلان وکړ ، نو د اسلامي نړۍ په یوه ځای کې هم د مخالفت غږ پورته نه شو . (۵ :۱۱۴)

د سلطان سلیم د وفات (۱۵۲۰م) کال نه وروسته یې زوی سلیمان اعظم چې په سلیمان القانوني مشهور دی واک ته ورسېد . ده هم عثماني امپراطوري ډېره پراخه کړه . اروپایي هېوادونه، بلغاریه ، هنګري ، او وینس یې ونیول .

ځیني مؤرخین د سلیمان القانوني له دورې سره د عثماني خلافت د زوال خبرې پیلوي ، ځکه له ده وروسته د حکومت کولو طرز بدل شو ، واکمنان په عیش او عشرت بوخت شول ، ځیني واکمنان د کم عمر په درلودلو سره د خلیفه کېدو وړ نه وو ، فوځ به زیاتره وخت بغاوتونه کول او واکمنان به یې وژل .

سلیمان په خپله واکمنۍ کې عثماني سلطنت خپل عروج ته ورساوه ، د هغه وروسته د خلافت زوال شروع شو . د څو کلونو پورې د زوال نښې نه لیدل کېدې ، خو داخلي ستونزې د سلیمان القانوني په وخت کې پیدا شوې وې . یوه ترکي مؤرخ (قوطچي) د سلطنت د زوال د پیل په اړه څو مادې ذکر کړې دي ، چې درې مهمې یې دلته ذکر کوم :

۱ : په لومړیو کې به سلطان د دیوان په هر مجلس کې د خپلو وزیرانو سره موجود وه ، او د هغوی سره به یې مشوره کوله ، خو سلیمان القانوني دغه رواج پای ته ورساوه .

۲ : سلطان سلیمان داسې کسان په لوړو څوکیو وټاکل چې د لوړو څوکیو اهل نه وو.

۳ : د سلطنت د وزیرانو پر ځای د حرم دښځو او نورو خلکو څخه چې د سلطنت پورې یې هېڅ اړیکه نه درلوده ، مشورې اخیستل یې پیل کړل . (۵ : ۱۴۲)

د سلطان سلیمان القانوني وروسته په نږدې عثمانیانو کې داسې کوم شخص نه دی تېر شوی چې هغه دې د سترو کارنامو لرونکی وي ، او عثماني سلطنت ته یې کوم ستر خدمت کړی وي . په وروستیو واکمنیو کې عثمانیانو خپلې زیاتره سیمې له لاسه ورکړې ، په یونان ، سربیا ، ولاچیه او نورو سیمو کې بغاوتونه وشول ،او په پای کې یې آزادي ورڅخه واخیسته .

عثمانیانو د روسیې او فرانسې سره ځیني جګړې وکړې ، او تړونونه یې هم لاسلیک کړل .

(c) ketabton.com: The Digital Library



د سلطان سليمان القانوني څخه ډېر وروسته د دويم سلطان محمود (۱۸۰۸ ــ ۱۸۳۹م) په وخت کې محمد علي پاشا رامنځته شو ، نوموړی د مصر والي و ، او د عثمانيانو په اشاره يې په نجد کې د وهابي تحريک د پلويانو پر ضد جګړې وکړې ، او هغوی يې له منځه يوړل.

ډاکتر صلابي د محمد علي پاشا په اړه ليکي :

هغه د خپل مکر او فريب او ښه ذهانت په وجه د مصري علماوو اعتماد ترلاسه کړ ، په ډېر مکر او چاپلوسۍ يې په مصر کې خپل سيال (واکمن) لرې کړ ، او په (۱۸۰۵م) کال کې د مصر د والي په توګه مقرر شو . ډاکترصلابي ليکي چې د ماسوني ډلې او علي پاشا ترمنځ اړيکې موجودې وې . (۴ :۳۹۴ـ۹۲)

د لومړي سلطان عبدالحميد په واکمنۍ (۱۸۳۹ـ۱۸۶۱م) کې د تنظيمات په نوم يوه نوې دوره شروع کيږي . هغه دوه فرمانونه د قانون په شکل وړاندې کړل . په (۱۸۵۴ او ۱۸۵۶م) کلونو کې دوه فرمانونه جاري شول ، د دې فرمانونو په خپرېدو سره د تنظيماتو په نوم نوې دوره پيل شوه ، او د هېواد چارې په غربي ډول مخکې وړل کېدې ، د دې فرمانونو په جاري کولو سره په اسلامي شريعت باندې د عمل کولو سلسله ودرېده ، او په هېواد کې د قانون او نورو ادارو د رامنځته کېدو يوه نوې لړۍ پيل شوه . (۴ :۴۲۸)

د همدې لومړي سلطان عبدالحميد د واکمنۍ پر مهال د کريميا جګړه رامنځته شوه ، چې روسيه يوه خوا او ترکيه بله خوا وه . وروسته متحدو فوځونو (انګلستان او فرانسې) هم د روسيې پر ضد د جګړې اعلان وکړ ، د دې اعلان وجه د سائنيوپ عام وژنه وه ، چې د روسيې له خوا وشوه .

پروفيسر انصارالحسن ليکي :

د (۱۸۵۴ م) کال په سپټمبر کې متحد فوځونه (انګلستان او فرانسه) د کريميا جزيرې ته ورسېدل ، دلته د تېرو شپږو مياشتو څخه د ترکي او روسي فوځ تر منځ جګړه روانه وه ، د دواړو خواوو ترمنځ ستره جګړه د سپټمبر په ۳۰ د (ايلما) د سيند سره نږدې وشوه ، چې روسي فوځ پکې ماتې وخوړه . (۲ :۳۹۷ـ۹۸)

په (۱۸۶۱م) کال کې د لومړي سلطان عبدالحميد وروسته د هغه ورور عبدالعزيز خليفه شو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



سلطان عبدالعزیز د اروپا دوره وکړه ، هغه دا احساس کړه چې د اروپا ټول قوتونه د عثماني دولت پر ضد متحد دي ، او هر وخت د دوی پر ضد توطئې جوړوي ، هغه کوښښ وکړ چې د اروپا او روس ترمنځ د شته اختلافاتو څخه ګټه واخلي . د دې لپاره يې روسي سفير ته ځو ځله استانبول ته د راتګ دعوت ورکړ . اروپايي هېوادونه ترې ووېرېدل ، او د هغه پر ضد يې د بې ځايه مصارفو او اصراف ښه پروپاګند وکړ . باالاخره مدحت پاشا عبدالعزيز لرې کړ ، او د خپلو ملګرو په مرسته يې هغه وواژه . ( ۴ :۴۴۳_۴۴ )

د عبدالعزيز وروسته يې وراره ( پنځم مراد ) د شيخ الاسلام د فتوا له مخې خليفه وټاکل شو ، نوموړی د لومړي سلطان عبدالحميد زوی وه .

ډاکتر صلابي ليکي :

کله چې نيمه شپه د خوبه راويښ کړل شو ، او د عبدالعزيز د لرې کېدو نه خبر شو ، نو وېره پرې راغله ، عقلي قوت يې ملګرتيا پرېښوده ، او بيا چې کله د حسن جرکسي د وژنې نه خبر شو ، نو عصبي کمزوري ورته پيدا شوه . کله چې مدحت پاشا په خپل لاس د جوړ شوي قانون اعلان کاوه ، نو د پنځم مراد حالت نور هم خرابېده تر دې چې بشپړ لېونی شو . په دې وخت کې شيخ الاسلام فتوا ورکړه چې کله د مسلمانانو واکمن پوره لېونی وي ، نو د امامت هدف له منځه ځي ، نو آيا په دې وخت کې يې لرې کول صحيح دي او که نه ؟(بيا ځواب ورکوي) په دې وخت کې د امامت ( خلافت ) څخه د هغه لرې کول صحيح دي.( ۴: ۴۴۵_۴۲ )

له ده وروسته يې ورور دويم سلطان عبدالحميد په تخت کېناست . نوموړی د عثماني خلافت وروستی (۳۴) ام خليفه دی ، چې د (۱۸۷۲م) کال څخه تر (۱۹۰۹م) کال پورې خليفه وه. هسې خو عثماني خلافت تر (۱۹۲۴م) کال پورې موجود وه ، خو واک د عثماني واکمن پر ځای له نورو سره و .

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د سلطان عبدالحمید شخصیت

لکه مخکې مو چې ورته اشاره وکړه ، سلطان عبدالحمید د عثماني خلافت وروستی واکمن وه ، نوموړی د پنځم مراد ورور او د هغه ولیعهد وه ، د مراد وروسته د لوی مفتي یا شیخ الاسلام او لومړي وزیر مدحت پاشا لخوا خلیفه وټاکل شو .

ډاکتر محمد صلابي د هغه د کوچنیوالي او زده کړو په اړه داسې لیکي :

سلطان عبدالحمید د عثماني خلافت په واکمنو کې (۳۴)ام خلیفه و . نوموړی (۳۴) کلن و ، چې په تخت کېناست ، هغه په (۱۸۴۲م) کال کې زېږېدلی دی . لس کلن و چې مور یې مړه شوه ، او پالنه یې د ناسکه مور په غاړه شوه ، هغې د یوې سکه مور په توګه د هغه صحیح پالنه وکړه . هغې د سلطان سره ډېره مینه درلوده ، تر دې چې د مرګ څخه مخکې یې وصیت کړی و ، چې زما ټول ملکیت د هغه دی . هغه ډېره دینداره ښځه وه ، او د سلطان پالنه یې هم په همدې ډول کړې وه ، چې د سلطان په ژوند باندې د هغې اغېز لیدل کیږي .

سلطان عبدالحمید د سلطان په قصر کې د خپل وخت (مروج) علوم د تکړه استادانو څخه زده کړل ، عربي او فارسي ژبې یې زده کړې ، تاریخ او ادب یې مطالعه کړل ، د تصوف په اړه یې معلومات ترلاسه کړل ، او هغه په ترکي ژبه شعرونه هم ویل . ( **۴ : ۴۴۹** )

په کوچنیوالي کې یې د استانبول د وتلو علماوو او شیخانو نه درس ووایه . قرآن کریم یې په صحیح ډول لوستلای شو ، د پیغمبر علیه السلام سنت او د حنفي فقهې مکتب یې هم ولوست . هغه د یوه صوفي په توګه وروزل شو ، په ځانګړي ډول د نقشبندي او هېلوتي په فکر ، کوم فکر چې د هغه د واکمنۍ په پېر کې لیدل کېږي .

د وسلې استعمال یې زده کړ ، په توره او نېزه وهلو کې یې مهارت ترلاسه کړ ، تل به یې جسماني تمرین کاوه ، په نړیوال سیاست به یې ژور نظر ساته ، او د خپل هېواد د طول او عرض د ننه په پېښو به یې ځان پوره خبراوه .

د تاریخ ترکیې لیکوالان د هغه د شخصیت په اړه لیکي :

ځینې مؤرخین هغه د یوه چالاک ، مکار ، بزدل او فریبکار شخص په توګه پېژني ... او وایي چې هغه د ترکیې په معاصر تاریخ کې ترټولو یو جنجالي شخص دی . ( **۵: ۲۲۹** )

(c) ketabton.com: The Digital Library



بل ترکي مفکر او لیکوال فتح الله ګولن د سلطان د شخصیت په اړه داسې لیکي :

د سلطان د حکومت دوره د فتنو او فساد دوره وه ، او هغه د ټولو په اتفاق ډېر ذهین ، هوښیار او با تدبیره انسان و . هغه ترکي لیکوالان او سیاسي فعالین چې د نویو عثمانیانو او یا هم د ځوانو ترکانو د غورځنګونو غړي وو ، هغوی ټول سلطان عبدالحمید ته په نېک نظر نه ګوري، په هغه نیوکه کوي ، او د پرمختګ دښمن یې ګڼي . د دواړو غورځنګونو غړي د لویدیځ د اخلاقو او کلتور نه اغېزمن شوي وو ، او غوښتل یې چې په ترکیه کې په هماغه ډول اخلاقي سیستم ، سیاسي نظام او نور لویدیځ قوانین پلي کړي ، خو سلطان عبدالحمید د هغوی د غوښتنو مخالفت کاوه .

## د سلطان عبدالحمید واک ته رسېدل

سلطان عبدالحمید د سلطان عبدالعزیز وراره دی ، د سلطان عبدالعزیز د لرې کېدو او وژل کېدو وروسته یې وراره پنځم مراد په تخت کېناست ، چې یوازې ځو میاشتې یې واکمني وکړه . وروسته د ځینو حالاتو د لیدو او اورېدو په پایله کې لېونی شو ، او خپل عصبي توازن یې له لاسه ورکړ .

ډاکتر محمد صلابي د پنځم مراد په اړه داسې لیکي:

کله چې نیمه شپه د خوبه راویښ کړل شو او د خپل کاکا عبدالعزیز د لرې کېدو څخه خبر شو، نو وېره پرې راغله ، عقلي قوت یې ملګرتیا پرېښوده او بیا چې کله د حسن جرکسي د وژنې څخه خبر شو ، نو عصبي کمزوري ورته پیدا شوه . کله چې مدحت پاشا په خپل لاس د جوړ شوي قانون اعلان کاوه ، نو د پنځم مراد حالت نور هم خرابېده ، تردې چې بشپړ لېونی شو . په دې وخت کې شیخ الاسلام فتوا ورکړه ، چې کله د مسلمانانو واکمن پوره لېونی وي نو د امامت هدف له منځه ځي ، نو آیا په دې وخت کې یې لرې کول صحیح دي او که نه ؟ بیا پخپله ځواب ورکوي چې په دې وخت کې د امامت ( خلافت ) نه د هغه لرې کول صحیح دي . ( ۴ : ۴۴۵ ـ ۴۲ )

سلطان عبدالحمید د خپل ورور مراد څخه وروسته د پنجشنبې په ورځ د ( ۱۸۷۲م ) کال د اګست په ۱۳ مه په تخت کېناست ، په دې وخت کې یې عمر (۳۴ ) کاله و . او د مختلفو ډلو

(c) ketabton.com: The Digital Library



د نمايندګانو لخوا هغه ته د خلافت مبارکي ورکړل شوه . د سلطنت په طول او عرض کې د توپونو سلامي ووهل شوه او جشنونه وشول . (۴ : ۴۵۱)

کله چې سلطان عبدالحميد واک ته ورسېد ، نو ټول سلطنت د ستونزو سره مخ و . د شلمې پېړۍ ستر مفکر بديع الزمان نورسي ترکي داسې ليکي : د هغه وخت د سترو فتنو د ختمولو لپاره د حضرت علي (ک) په شان يو شخصيت ته اړتيا وه ، او هغه (سلطان) په ډېرې ځوانمردۍ سره د هغه وخت د فتنو سره مقابله وکړه .

د سلطان د ټاکل کېدو وروسته د خلافت حالات په لاندې ډول وو :

په تونس کې نا امني خپره شوې وه ، فرانسويانو او ايټالويانو په مراکش کې لاسوهنې کولې او فتنې يې راپارولې . لنډه دا چې که ترکيه په کومه نړيواله جګړه کې داخله شي نو ضرور به ماته وخوري . د کريټ د جزيرې حالات هم خراب وو ، ځکه هلته غربيان د يوې خطرناکې بلا په توګه موجود وو ، او د وتو هېڅ اراده يې نه درلوده . په بالکان کې روسيې ښکاره مداخله کوله او مخالفتونه او فتنې يې راپارولې . سلاويانو د بلغاريې اوسيدونکي تحريکول چې د عثماني سلطنت څخه آزادي واخلي . www.fgulen.com

واک ته تر رسېدو وروسته يې مدحت پاشا يو ځل بيا د لومړي وزير په توګه وټاکه . لکه پاس چې مو ذکر کړل ، سلطان د خپل لېوني ورور پنځم مراد وروسته خليفه شو . نوموړی نږدې (۳۳) کاله د عثماني خلافت واکمن وه ، او په عثمانيانو کې دويم شخص دی چې دومره اوږده واکمني يې وکړه . په (۱۹۰۹م) کال کې د ځوانو ترکانو د يوه پاځون او نړيوالو توطيو په ملاتړ له واکه ګوښه کړای شو ، چې وروسته به پرې په تفصيل سره خبره وکړو .

## اساسي قانون

د سلطان عبدالحميد ثاني د واکمنۍ په لومړي کال اساسي قانون جوړ شو ، مدحت پاشا چې لومړی وزير وه ، هغه يې په جوړولو کې ډېر کوښښ وکړ . د مدحت پاشا په اړه ويل کيږي چې هغه غوښتل تر څو جمهوري نظام رامنځته کړي . تر دې چې د هغه د وفات وروسته هم همدا خبره کېده ، چې هغه په ترکيه کې د يوه قانون لرونکي جمهوري نظام غوښتونکی او ملاتړی وه ، دا خبره د يادولو وړ ده چې د جمهوري نظام په موجوديت کې يې د پاچا د

(c) ketabton.com: The Digital Library



منصب او مقام په اهمیت باندې زور اچوه . هغه د پنځم مراد د معزولی پر مهال مجلس ته ویلي وه چې دولت د پاچا پرته نه شي چلېدای .

د دیسمبر په **۲۳ ـ ۱۸۷۶**م کال ماسپښین نږدې یوه بجه د قانون د نافذولو اعلان وشو ، د قوي باران د ورېدو سربېره زیات خلک موجود وو ، خو سلطان نه و ، د ۱۰۱ توپونو د سلامۍ په وهلو سره د قانون د نافذولو اعلان وشو ، خلکو خوښي ښکاره کړه ، او خپل کورونه یې روښانه کړل ، په همدې ورځ ماښام ځوانانو د سلطان زنده باد او مدحت پاشا زنده باد نعرې وهلې . د ډیسمبر په (**۲۴**) مه د یوې ورځپاڼې سرلیک په دې ډول وه :

پرون ورځ د ټول عثماني رعیت لپاره

د خوښۍ د پیلېدو ورځ وه

د هېواد په لر او بر کې خوښۍ ښکاره شوې ، خو د سلطنت په غیر مسلمو اقلیتونو کې د بالکان د عوامو خوښي نه لیدل کېده ، په رومانیه کې خو د قانون پر ضد لاریون وشو ، ځکه دا خلک د جلاوالي غوښتونکي وو ، ارمن او یهودان په دې قانون باندې زیات خوښ وو ، په استانبول او ادریانیل کې پرتو یونانیانو هم خوښي ښکاره کړه ، او ښه راغلاست یې ورته ووایه . د (**۱۸۷۶**م) کال قانون (۱۲) برخې او (**۱۱۹**) مادې درلودې ، چې د سلطان د حکومت کولو ، د لومړي وزیر د ټاکلو ، د وزیرانو او شیخ الاسلام د ټاکلو ، د نظامي افسرانو د ټاکلو ، د جرګو د واکونو او نورو ذکر پکې شوی و . (**۵** : **۲۹۱ ـ ۹۷**)

سلطان عبدالحمید له لومړي سره له اساسي قانون سره مخالفت درلود ، او په ظاهره یې له خلکو سره موافقه وښوده ، خو ډېر ژر یې اساسي قانون بېرته لغوه کړ ، او په (**۱۸۷۷**م) کال په فبروری کې یې مدحت پاشا چې د اساسي قانون بنسټ ایښودونکی و ، له دندې ګوښه او له پلازمېنې یې جلا وطن کړ . پارلمان هم منحل او د هغه وکیلان یې خپلو کورونو ته ولېږل ، او د دولتي ادارو اکثره لایقه او باکفایته کارمندان له دندو ګوښه کړای شول . (**۱۱** : **۲۲**)

سلطان عبدالحمید په (**۱۹۰۸**م) کال کې یو ځل بیا اساسي قانون نافذ کړ ، خو په ورپسې کال کې د فوځ یوې برخې د دې قانون د پلي کولو پر ضد د اسلام په نوم بغاوت وکړ ، دوی په قسطنطنیه کې د یووالي او پرمختګ د ګوند ځینې غړي ووژل ، په دې سره محمود شوکت

(c) ketabton.com: The Digital Library



پاشا راپاڅېد او سلطان عبدالحمید یې د اپریل په (۲۲) د شیخ الاسلام په فتوا له تخته کوز کړ ، او واک ځوانو ترکانو ته انتقال شو .

## مدحت پاشا ، فکر او کړنې یې

مدحت پاشا د ډېر وخت لپاره د عثماني ترکانو د لومړي وزیر په حیث دنده اجراء کړه ، هغه د عبدالعزیز او پنځم مراد په لرې کولو کې ستر رول ولوباوه . د پنځم مراد د لرې کولو وروسته یې عبدالحمید د مفتي په فتوا واک ته ورساوه ، سلطان عبدالحمید مدحت پاشا یو ځل بیا د لومړي وزیر په توګه وټاکه .

مدحت پاشا په ترکیه کې د جمهوري نظام غوښتونکی وه ، هغه غوښتل چې د سلطان واکونه محدود کړي ، په سلطان باندې یې اساسي قانون منظور کړ ، هغه په ترکیه کې د یوه پارلماني حکومت څخه چې زیات واک ولري ملاتړ کاوه .

دا چې مدحت پاشا څنګه شخص وه ، مختلف لیکوالانو یې په شخصیت باندې لیکل کړي دي . وتلی ترکي لیکوال فتح الله ګولن ( په یوه مقاله کې ) او ستر عرب مؤرخ ډاکتر محمد صلابي هغه د دونمه یهودانو د تحریک پټ غړی ګڼي ، او هم یې د عبدالعزیز په وژلو تورنوي.

ډاکتر محمد صلابي لیکي :

سلطان عبدالحمید مدحت پاشا لومړی وزیر وټاکه ، او د ډیسمبر په (۲۳ـ۱۸۷۶م) کال یې د یوه قانون اعلان وکړ ، چې پکې یې د ښاري آزادیو ضمانت ورکړی وه .( ۴ : ۴۵۱ )

مدحت پاشا د دونمه یهودانو سره اړیکه درلوده ، او د هغه سره د اروپا پوره ملاتړ موجود وه. مدحت پاشا د خپلو ملګرو په ملاتړ د سلطان عبدالحمید کاکا سلطان عدالعزیز وواژه ، او بیا یې د دې وژنې د پټولو لپاره دا دعوه وکړه ، چې سلطان ځان وژنه کړېده .(www.fgulen.com)

فتح الله ګولن لیکي :

مدحت پاشا د دونمه یهودانو څخه و. ماسوني مبلغینو په ختیځ او لویدیځ کې د هغه د ښه توب لپاره تبلیغ کاوه ، چې هغه په عثماني امپراطورۍ کې د آزادۍ او اصلاح بیرغ لوړ کړی دی . سیکولرانو هغه ته د قانون د بابا لقب ورکړی وه ، هغوی په ورځپاڼو ، رسالو او جریدو کې د هغه لپاره ښه کمپاینونه کول ، تر دې چې هغه د عثماني سلطنت د لومړي وزیر څوکۍ ته

(c) ketabton.com: The Digital Library



ورسېد ، بیا یې د تخریب او سازشونو لړۍ شروع کړه . د ماسونیانو او یهودیانو ملاتړ ورسره مل وه ، د حکومت د پرځولو لپاره یې د ماسونیانو د چلونو څخه کار اخیست . مدحت پاشا د یهودي او ماسوني نړیوالو ډلو په مرسته د یوې ټولنې بنسټ کېښود ، چې د ( یووالي او پرمختګ ) ټولنه نومېده . سلطان عبدالحمید چې کله د دې یهودي سازشونو څخه خبر شو، نو هغه یې ډېر ژر ونیو ، او تبعید یې کړ . ( ۴ : ۴۴۴ )

مدحت پاشا به د شرابو څښلو په محافلو کې د حکومت ټول مهم او پټ رازونه افشاء کول ، یوه شپه یې خپله اراده داسې ښکاره کړه ، چې زه به ډېر ژر د عثماني دولت پر ځای د جمهوریت اعلان وکړم او په خپله به یې مشري کوم .

په مدحت پاشا باندې د سلطان عبدالعزیز د وژنې تور هم وه . سلطان عبدالحمید یو کمیسون وګماره ، چې د دې په اړه تحقیق وکړي ، بیا یې تورن کسان محکمې ته وړاندې کړل ، مدحت پاشا مجرم وپېژندل شو، او په مرګ یې محکوم کړ ، خو سلطان عبدالحمید مداخله وکړه ، او د هغه د مرګ جرم یې په ابدي حبس بدل کړ . مدحت پاشا یې حجاز ته تبعید کړ ، چېرته چې د فوځي بندیانو لپاره یو زندان موجود و .( ۴ : ۴۵۲ـ۵۳ )

## د ترکیې او روسیې اړیکې

د عثماني ترکیې او روسیې ترمنځ اړیکې د سلطان عبدالحمید د واکمنۍ په دوران کې تر ډېره خرابې وې ، ځکه روسیې پخوا هم د عثماني ترکیې د لاس لاندې سیمو کې خلک د ترکي حکومت پر ضد بغاوت ته هڅول . روسیې غوښتل چې دغه سیمې ( د باسفورس آبنا ، توره بحیره او د بالکانو سیمې ) تر خپل واک لاندې راولي ، د دغو سیمو خلک یې د عثمانیانو پر ضد شورش ته هڅول ، او دا بهانه یې کوله چې عثمانیان د هغه ځای د عیسوي اوسیدونکو سره ښه سلوک نه کوي ، او آزادي یې ترې اخیستې ده .

د دواړو هېوادونو تر منځ د کریمیا د جګړې د پیلېدو یو لامل هم همدا سیمې وې . د کریمیا جګړه ( ۱۸۵۳ـ۱۸۵۶م پورې ) چې د ترکیې او روسیې تر منځ پېښه شوه ، او وروسته پکې متحد فوځ ( انګلستان او فرانسه ) هم پکې برخه واخیسته . انګلستان د روسیې په مقابل کې د ترکیې د ادعا ملاتړ وکړ ، ځکه د ترکیې په ګټو کې د انګلستان ګټې نغښتې وې . دغه جګړه د روسیې په ماتې او د پاریس په کنفرانس سره پای ته ورسېده .

(c) ketabton.com: The Digital Library



ډاکتر محمد صلابي ليکي :

روسيې د ديني ، سياسي او اقتصادي لاملونو په وجه غوښتل چې ځان ګرمو اوبو ته ورسوي . لوی پطرس روسانو ته وصيت کړی وه : چې د عثمانيانو سره دې تمدني کشمکش جاري وساتل شي ، تردې چې د هغوی ښنبه له دې نړۍ څخه ورکه شي .

روسيې په همدې نصېحت عمل وکړ ، او د سلطان عبدالحميد د واکمنۍ په دوره کې د بالکانو يونان او د نورو عثماني سيمو خلکو د روسانو او اروپايانو په اشارو بغاوتونه وکړل . ( ۴ : ۴۲۰ )

پروفيسر انصار الحسن ليکي :

په ( ۱۸۲۲م ) کال کې د کرېټ د جزيرې اوسېدونکو د روسيې په غوښتنه د ترکانو پر ضد د بغاوت بيرغ پورته کړ ، يونان يې هم ملاتړ وکړ ، په دې سره د روسيې او يونان تر منځ د جګړې خطر رامنځته شو ، خو اروپايي قومونو مداخله وکړه او په ( ۱۸۲۹م ) کال کې د کريټ جزيرې داخلي آزادي ترلاسه کړه . ( ۲ : ۲۱۷ )

يوازې د کريټ جزيره نه وه ، چې روسانو يې ملاتړ کاوه ، او بغاوت ته يې هڅول ، د سربيا ، رومانيې ، بلغاريې او نورو بالکاني هېوادونو د آزادۍ په تحريکونو کې هم روسيې مستقيم او غير مستقيم لاس درلود .

سيد محمد فضل الله بخاري ليکي :

د مرکزيت په پای ته رسولو سره په ختيځ او لويديځ کې پروت عثماني سلطنت د سياسي يووالي څخه هره ورځ بې برخې کېده ، او په لرو پرتو سيمو کې غير مسلمانو اقليتونو د نورو په مټ ورانی پيل کړ .( ۳ : ۵۵ )

## د کرېميا جګړه او د بالکان د ملتونو پاڅون

هغه قومونه او طايفې چې د عثماني امپراتورۍ په اروپايي برخه کې اوسېدل دا وو : صربيان ، بلغاريان ، رومانيان ، البانيان ، او د مونټېنګرو او بوسنيا او هرزه ګوينا وګړي وو ، دوی د بالکان د ايالتونو په نوم هم يادېږي ، دوی مسيحيان وو ، په داسې حال کې چې د دوی فاتحين

(c) ketabton.com: The Digital Library



مسلمانان وو . د دین همدغه اختلاف ، د عثماني مامورینو ظلم او لوړې مالیې د پاڅونونو او بغاوتونو سبب کېدل .

د روسیې دولت په دې فکر کې و ، چې په عثماني امپراتورۍ کې د دغه پورته ذکر شوو مسیحیانو سرپرستي پخپله واخلي . هغه خبرې اترې چې په دې اړوند ترسره شوې مثبته پایله یې ور نه کړه ، او په (۱۸۵۳م) کال جګړه پیل شوه . روسان د دانیوب له سیند څخه تېر شول ، همدغه وخت فرانسې او انګلستان د روسیې پرضد جګړه اعلان کړه ، او خپلې یو شمېر کښتۍ یې د بالتیک بحیرې ته واستولې او د پوځي حمل و نقل په موخه یې یو بل ګروپ کیښتۍ ګانې تورې بحیرې ته ولېږلې . په لاره کې د ترکیې او ساردنې د قواوو یوه ډله هم ورسره یو ځای شوه . روسانو مالداویا او ولاشې خوشې کړې وو ، نو ځکه متحدین د کرېمیا پر لور وخوځېدل . وروسته تر هغې چې متحدین په دغه ټاپووزمه کې پلې او په جګړه کې بریالي شول ، نو یې د (سیواستو پول) بندر کلابند کړ . د دغه بندر کلابندۍ او جګړې نږدې یو کال وخت ونیوه .

په دغه جګړه کې روسانو ماتې وخوړه او په (۱۸۵۵م) کال کې د سیواستو پول بندر د متحدینو (ترکیه ، فرانسه او انګلستان) ګوتو ته ورغی . روسیې د سولې غوښتنه وکړه . د (۱۸۵۲م) کال د پاریس تړون دغه جګړه پای ته ورسوله . د دغه تړون پر اساس روسیې د بسارابیا جنوبي برخې له لاسه ورکړې ، او په توره بحیره کې د جنګي کیښتیو له ساتلو بې برخې شوه او هم یې په عثماني امپراتورۍ کې د ارتودوکس مذهب د پیروانو له ملاتړ څخه لاس واخیست . په (۱۸۵۹م) کال کې د ترکانو د مخالفت سره سره مالداویا او والاشې په خپلو منځونو کې سره اتحاد وکړ ، چې دغه کار د رومانیا د جوړېدو مقدمه شوه . مونتېنګرو د ترکانو پر وړاندې د مبارزو په حال کې وه .

په (۱۸۷۵ او ۱۸۷۷م) کلونو کې د بالکان ملتونو د عثمانیانو پر وړاندې پاڅون وکړ . روسان د هغوی د ملاتړ په موخه له ترکانو سره په جګړه شول ، چې په پایله کې ترکان مجبور شول ، چې د سن ستېفانو د تړون له مخې روسانو ته زیات امتیازات ورکړي ، خو اتریش او انګلیس د روسیې د واک د زیاتوالي له وېرې د روسیې پر وړاندې تهدید آمېزه روش په مخکې ونیو . د جګړې د پراختیا د مخنیوي په موخه په (۱۸۷۸م) کال کې د برلین تړون لاسلیک شو . د دغه تړون له مخې د بالکان درې ایالتونه مونتېنګرو ، صربستان او رومانیا په رسمي توګه خپلواک

(c) ketabton.com: The Digital Library



اعلان شول ، بلغاریا لا هماغه شان د ترکیې خراج ورکوونکې وه ، خو د هغه حاکم یو تن مسیحي و ، رومانیا د بسارابي جنوبي برخې چې د پاریس دتړون له مخې روسیې له لاسه ورکړې وې بېرته روسیې ته ورکړې ، د بوسنیا او هرزه ګوینا ایالتونه اتریش او د قبرس جزیره انګلستان ته ورکړل شوه . ( ۹ : ۱۳۸ ـ ۳۹ )

## د ترکیې او روسیې ترمنځ د (۱۸۷۷م ) کال جګړه

د ترکیې او رسیې ترمنځ پخوا هم ډېرې جګړې شوې دي ، چې د جګړې مرکز به د بالکان هېوادونه وو . روسیې د پخوا څخه غوښتل چې د بالکان هېوادونه د خپلې ولکې لاندې راولي. روسیې به د بالکان د هېوادونو عیسوي اوسیدونکي د عثماني ترکیې پر ضد جګړې ته هڅول. پروفیسر انصارالحسن په ( تاریخ جدید یورپ ) کې د ترکیې او روسیې تر منځ د (۱۸۷۷م ) کال د جګړې لاملونه په دې ډول لیکلي دي :

د (۱۸۷۶م ) کال په اګست کې د ترکیې د ولکې لاندې ولایتونو بوسنیا او هرزه ګوینا بغاوت وکړ یو ترکي چارواکی یې ووژه ، سربیا او مونټي نیګرو یې هم ملاتړ وکړ .

د (۱۸۷۶م ) کال په جون کې د مونټي نیګرو او سربیا خلکو د روسیې په اشاره د بوسنیا ، هرزه ګوینا او بلغاریې د خلکو د ملاتړ لپاره د ترکیې پر ضد د جګړې اعلان وکړ ، چې په دې سره حالات نور هم بحراني شول . په زرګونو روسي رضا کاران د یوه روسي جنرال په مشرۍ سربیا ته ننوتل . ( ۲ : ۲۱۸ ـ ۱۹ )

د جګړې د مخنیوي لپاره د ځینو اروپایي هېوادونو لخوا ډېر کوښښونه وشول ، مختلف کنفرانسونه راوغوښتل شول ، د روسیې لخوا داسې وړاندیزونه وشول ، چې ترکانو ومنل ، خو بیا هم د جګړې مخه ونه نیول شوه ، ځکه روسیې به بیا څو داسې شرایط وړاندې کول چې سلطان ته به د منلو نه وو ، هماغه وو ، چې ( ۱۸۷۷م ) کال د اپریل په (۲۴) روسیې د ترکیې پر ضد د جګړې اعلان وکړ .

ترکیه یو خوا او سربیا ، بلغاریه ، روسیه ، استریا ، بوسنیا ، هرزه ګوینا او رومانیا بله خوا وو . د جګړې احوال د ډاکټر محمد صلابي په کتاب کې داسې لیکل شوی :

(c) ketabton.com: The Digital Library



رومانیه هم د روس ملګرې شوه ، عثمانیانو د روسیې سره ډېر سخت جنګ وکړ ، روسي فوځ د دانیوب د سیند نه تېر شو ، او د عثماني دولت ډېرې سیمې یې د خپلې ولکې لاندې راوستې لکه : تېره نو او نیقو لبلې ، چې اوس د بلغاریې هېواد سیمې دي . په دې ډول روسیې مهمې سیمې ونیولې . روسي فوځ ته د ماتې ورکولو لپاره سلطان په خپل فوځ کې ځینې تغیرات راوستل ، روسیې کوښښ وکړ چې د پلیونا (Plevna) ښار ونیسي ، دا ښار بالکانو ته تلونکې مهمه بندرګاه وه ،خو د عثماني فوځ تکړه سپه سالار عثمان پاشا روسي فوځ ته ماتې ورکړه او هغوی یې شاتګ ته اړ کړل . روسیې د خپل ډېر فوځ سره بیا حمله وکړه ، خو بیا یې هم ماته وخوړه ، د عثمان پاشا د تکړه والي په اړه سلطان یو ځانګړی فرمان صادر کړ ، چې پکې یې د عثمان پاشا ډېره ستاینه کړې وه .

کله چې روسان د دغه تکړه مشر په مقابل کې ناکام شول ، نو خپله پالیسي یې بدله کړه ، د ښار محاصره یې پیل کړه ، او عثماني دفاعي فوځ ته یې د سامان د رسولو لاره بنده کړه ، سربېره پر دې یې په ښار باندې حمله هم وکړه ، چې روسي قیصر هم پکې شامل و ، د رومانیې امیر چې یو لک فوځ یې درلوده د روسیې سره مرسته وکړه ، په دې جګړه کې روسي فوځ برلاسی وه ، د روسي فوځ ټوله شمېره دوه نیم لکه شوه ، هغوی د دریو کرښو په جوړولو سره عثمانیان محاصره کړل ، خو عثمانیانو د عثمان پاشا په مشرۍ ډېره سخته مقابله کوله ، د عثمانیانو شمېر ۵۰ زره و ، خو ډېر جرأت او کمال یې وښود ، هغوی نه یوازې دفاع کوله ، بلکې د هغوی د حملو مخنیوی یې هم کاوه ، د عثمانیانو په زړه کې همدا خبره تېرېده ، چې یا به بریالي کېږو او محاصره به له منځه وړو ، او یا به ټول شهیدان شو ، او د الله تعالی رضا به ترلاسه کړو .

عثمانیانو د عثمان پاشا په مشرۍ حملې کولې ، زیات فوځیان یې شهیدان شوي وو ، خو بیا هم یې د روسانو لومړۍ محاصروي کرښه ماته کړه ، دویمه یې هم ماته کړه ، د دوښمن ډېر توپونه یې لاس ته ورغلي وو ، کله چې یې د دریمې کرښې د ماتولو کوښښ کاوه ، مسلمان مشر په همدې وخت کې لږ ټپي شو ، هغه ښار ته د ننوتلو کوښښ کاوه ، خو روسي فوځ ښار ته داخل شوی و ، دښمن د څلور خواوو څخه اورونه اورول ، بالاخره عثمانیان مجبور شول چې تسلیم شي . دا پېښه په (۱۸۷۷م) کال کې رامنځته شوه ، او عثماني مشر (عثمان پاشا) هم وسله وغورځوله ، عثمان پاشا یې په دیسمبر کې روسیې ته ولېږه . (۴ : ۴۲۰ـ ۲۱)

(c) ketabton.com: The Digital Library



د پلیونا د ماتې وروسته د ترکي فوځ قوت کم شو ، د (۱۸۷۸م) کال د جنورۍ په (۲۰) روسي فوځ دریا نیل ته ورسېد ، په دې سره سلطان د سولې غوښتنه وکړه ، او د مارچ په (۳) مه یې د سان ستېفانو په تړون باندې لاسلیک وکړ . (۲ : ۲۲۲)

## د سان ستېفانو تړون

د سان ستېفانو تړون د سلطان عبدالحمید لخوا د روسانو سره لاسلیک شو ، سلطان مجبور و ، ځکه چې روسان نور د سلطان پلازمېنې استانبول ته نږدې شوي وو ، د ډاکتر صلابي د لیکنې له مخې د پلازمېنې څخه یوازې پنځوس کیلو متره لرې وو .

ډاکتر صلابي لیکي :

روسي استازي له مخکې څخه لیکل شوي شرطونه راوړل ، او غوښتنه یې وکړه ، چې دا باید لاسلیک شي ، که چېرته یې لاسلیک نه کړي ، نو روسي فوځ به مخکې تګ شروع کړي ، او استانبول به ونیسي . د عثماني دولت سره د لاسلیک پرته بله لاره نه وه .

تړون لاندې مادې درلودې :

۱ـ توره بحیره سرحد وټاکل شو او آزاده یې اعلان کړه .

۲ ـ سربیا آزاده (خودمختاره) اعلان شوه .

۳ ـ بلغاریه هم آزاده اعلان شوه ، خو سلطان ته به یو څه اندازه پیسې د باج په ډول ورکوي .

۴ ـ د رومانوي دولت بشپړه آزادي .

۵ ـ عثماني دولت به د ارمني ، نصراني او سرکس قومونو بشپړه ساتنه کوي .

۶ ـ عثماني دولت به د کریټ د جزیرې د نصرانیانو د حالت د ښه کولو لپاره اقدامات کوي .

۷ ـ عثماني دولت به د جګړې (۲۵۰) میلیونه د سرو زرو لیرې تاوان ورکوي ، که روس وغواړي نو د دې پیسو په بدل کې ځینې سیمې په خپله ولکه کې راوستی هم شي .

۸ ـ باسفورس او دردانیل به د جګړې او سولې په دواړو حالاتو کې روسي فوځ ته خلاصې وي .

۹ ـ د بلغاریې مسلمان اوسېدونکي چې هر خوا وغواړي ، هجرت کولای شي .

(c) ketabton.com: The Digital Library



په دې تړون باندې د (۱۸۷۸م) کال د مارچ په (۳) مه لاسلیک وشو ، کله چې د عثمانی دولت لخوا صفوت پاشا په دې تړون باندې لاسلیک کاوه ، نو سترګې یې د اوښکو څخه ډکې وې ښکاره ده چې په دې تړون کې داسې شرطونه وو ، چې د عثماني دولت د هلاکت سبب شول . (۴ : ۴۲۲ ـ ۲۳)

د وتلي مؤرخ کیتهل بې له نظره : دا تړون د روسیې لپاره یوه بې سارې بریا وه ، روسیې د کریمیا په جګړه کې بایللی ذلت او رسوایي بېرته جبران کړه ، بالکان یې په خپله ولکه کې راوسته ، بلغاریه یې د خاورې برخه شوه ، او په توره بحیره کې یې بیا لاسوهنه پیل کړه .

## د برلین تړون

د بالکان په هېوادونو کې د روسیې د نفوذ پراخېدل ، او توره بحیره په بشپړ ډول د روسیې لاس ته ورتلل ، د انګلستان د ګټو سره په ټکر کې وه . د اتریش لپاره د روسیې د لاس لاندې د یوې سترې بلغاریې منځته راتګ د منلو نه وه . رومانیه هم د روسیې څخه خفه وه ، ځکه سربیا ترې روسیې اخیستې وه ، د یونان سیمه (موناستر) بلغاریې ته ورکړل شوې وه . اتریش او انګلستان تش لاس پاتې وه .

همدغه لاملونه وو چې انګلستان د سان ستېفانو په تړون باندې د دویم ځل غور (نظر ثاني) غوښتنه وکړه ، انګلستان ویل چې د ختیځ مسئله تل د اروپایي هېوادونو لخوا حل شوې ده ، روسیه یې د حل کولو هېڅ حق نه لري . (۲ : ۲۲۳ ـ ۲۴)

خو ډاکتر صلابي بیا په دې موضوع کې د انګلستان شاملول د سلطان عبدالحمید کار ګڼي او هغه لیکي :

سلطان اصلاً په جګړه کولو خوښ نه و ، هغه تړون تصدیق نه کړ ، او د لوړې سطحې ډیپلوماتیکې هلې ځلې یې پیل کړې ، تر څو بریالی شو ، چې انګلستان د ځان ملګری کړي د دې لپاره یو بل کنفرانس جوړ شو ، چې د برلین کنفرانس نومیږي . هدف ترې دا و ، چې یو خوا د سان ستېفانو د تړون اغېز کم کړي ، او بل خوا روسیه د انګلستان څخه ووېروي ، تر څو روسیه جګړه ونه کړي . دې کنفرانس عثماني دولت ته لږ ګټه وکړه ، او د مخکې تړون په نسبت یې تاوان کم و . (۴ : ۴۲۳)

(c) ketabton.com: The Digital Library



د سان ستېفانو په تړون باندې د دويم ځل غور کولو لپاره د ټولو اروپايي هېوادونو کنفرانس په برلين کې د جون په (۱۳ ـ ۱۸۷۸م) کال کې جوړ شو . بسمارک يې مشري کوله ، د دې کنفرانس موخه د ترکيې ښه والي غوښتل نه و ، بلکې د سان ستېفانو تړون د انګلستان او استريا د ګټو سره برابرول يې موخه وه ، د جولای په (۱۳) مه په دې تړون باندې لاسليکونه وشول . ( ۲ : ۲۲۴ )

د برلين تړون د لاندې مادو په اساس لاسليک شو :

۱ ـ د بلغاريې خودمختاري ومنل شوه ، او حدود يې تغير شول .

۲ ـ د يونان سرحد د شمال خواته لږ پراخه کړل شو ، خو په دې ټول پوهېدل چې يونان په جګړه کې ښکېل نه و ، او د سان ستېفانو د تړون پورې يې اړه نه درلوده .

۳ ـ بوسنيا او هرزه ګوينا يې د استريا پورې ونښلول .

۴ ـ بسارابيا يې د رومانيې نه جلا کړه ، او د روسيې پورې ونښلول شوه .

۵ ـ سربيا او توره بحيره خودمختاره اعلان شوه .

۶ ـ د جګړې تاوان چې (۲۵۰) ميليونه د سرو زرو لېرې و ، د ترکيې څخه لرې کړل شو .

۷ ـ په عثماني دولت باندې دا ومنل شوه ، چې په محکمو کې به د هر ډول مذهب او ملت لرونکو خلکو شاهدي مني .

۸ ـ د کريټ په جزيره کې به د نصرانيانو د فلاح او ښه والي لپاره کار کيږي .

بسمارک څکه د دې کنفرانس د جوړېدو غوښتنه وکړه ، چې د روسيې او انګلستان جګړه ټولې اروپا ته خپره نه شي ، او د جرمني يووالي ته زيان ونه رسيږي ، څکه چې د جرمني د يووالي لپاره ډېر کوښښ شوی و . بسمارک لوی هېوادونه دې کنفرانس ته راوغوښتل ، ترڅو د سان ستېفانو په تړون باندې بيا غور وکړي ، او د روسيې او ترکيې تر منځ د پېښ شوي جنګ د پايلو په اړه پرېکړه وکړي . ( ۴ : ۴۲۴ )

(c) ketabton.com: The Digital Library



# پان اسلامېزم

په (۱۹م) پېړۍ کې یو شمېر مسلمان مفکرین رامنځته شول ، چې د نړۍ ټول مسلمانان په ځانګړې ډول مشران یې اتحاد او یووالي ته رابلل ، دوی یې د لویدیځ د استعمار د زیانونو نه وېرول ، او تأکید یې پرې کاوه ، چې په خپلو کې سره یو شي ، لاسونه سره ورکړي ، او د لویدیځ استعمار پرضد یوه ځانګړې قوي او خپلواکه سیاسي او نظامي ټلواله جوړه کړي . همدغه فکر ته د پان اسلامېزم نوم ورکړل شوی دی ، چې مانا یې د مسلمانانو یووالی (اتحادالمسلمین) ده .

دا چې د دې فکر لومړی رامنځته کوونکی څوک دی ، په دې اړه ما دوه مختلف نظریات ولوستل. د تاریخ ترکیې لیکوالان لیکي :

که د اسلامي نړۍ د سیاسي یووالي لپاره د لومړني کوښښ په اړه معلومات وکړل شي ، نو هغه شاه ولي الله وه ، چې په خپل کتاب (حجة الله البالغه) کې یې په ټولې اسلامي نړۍ باندې تأکید کړی ، چې په یوه کړنلارې سره راټول شي ، او د اسلام د لوړوالي لپاره کار وکړي . (۵ : ۲۷۹)

خو د معاصر نړیوال اسلامي خوځښت بنسټ ایښودونکی بې له شکه چې افغان سید جمال الدین دی ، دهغه د کوښښونو له امله وه ، چې په اسلامي نړۍ کې یوه ویښتیا او د یووالي فکر رامنځته شو . د افغان سید سفرونه ، تقریرونه ، لیکنې او مبارزه وه ، چې په ختیځ یې د لویدیځ د استعمار او کلتور یرغل نه خبر کړل ، دا فکر یې ورکړ ، چې د هغوی د اخلاقو او کلتور پرځای د هغوی د ساینس او ټکنالوجۍ سره مینه وکړئ .

کله چې د اسلامي یووالي او نړیوال اسلامي فکر د رامنځته کېدو خبره کیږي ، نو د افغان سید جمال الدین نوم یې په سر کې ذکر کیږي . هغه افغان سید وه ، چې اسلامي فکر یې را ژوندی کړ ، مسلمانان یې د لویدیځ د استعمار نهووېرول ، هغوی ته یې وروښوده ، چې استعمار د مسلمانانو د وروسته پاتې والي اصلي لامل دی . مسلمانان یې په دې پوه کړل ، چې مسلمانان باید د لویدیځ د اخلاقو او کلتور پر ځای د هغوی د ساینس او ټکنالوجۍ سره مینه ولري .

(c) ketabton.com: The Digital Library



محمد ابوریه لیکي :

یواځینی هدف چې سید جمال الدین یې په لاسته راوړلو کې ډېر زیار ویسته ، او په دغه لاره کې د ډېرو ستونزو سره مخ شو ، هغه د اسلامي هېوادونو د خلکو د ژوند د سطحې لوړول ، یووالي ، ورورولۍ رامنځته کول او د مسلمانانو د برابرۍ لپاره کار کول وه . ( ۱ : **۵۵** )

ډاکتر محمد صلابي لیکي :

د سلطان عبدالحمید د حکومت په اوږدو کې په لومړي ځل د اسلامي یووالي فکر رامنځته شو او په (**۱۸۷۶**م) کال کې چې سلطان عبدالحمید په تخت کېناست ، نو د یوه تحریک (خوځښت) بڼه یې خپله کړه ، کله چې سلطان عبدالحمید لږ آرام شو ، او واک یې په بشپړ ډول په لاس کې ونیوه ، نو د اسلامي یووالي (پان اسلامېزم ) د فکر په پلي کولو یې پیل وکړ . ( **۴ : ۴۲۵** )

ضیاألدین هوتک پخپل کتاب کې داسې لیکي :

د پان اسلامېزم مفکوره د سلطان عبدالحمید د واکمنۍ له پیل څخه د مخه رامنځته شوې وه، لویو او کوچنیو ډلو په ټوله اسلامي نړۍ کې د مسلمانانو د وحدت لپاره کار کاوه ، خو دا ځل دغې مفکورې په ترکیه کې سیاسي شکل غوره کړ . په ترکیه کې پخپله سلطان عبدالحمید د اسلامېزم د مفکورې پیاوړي کول پیل کړل . هغه یوازې د خپلو سیاسي موخو د لاسته راوړلو په خاطر دغه جریان پیاوړی کړ ، او ورسره جوخت یې ځان د مسلمانانو خلیفه هم اعلان کړ . ( **۱۱ : ۲۴** )

عثماني خلیفه لیدل چې عثماني لویه امپراتوري یې د تجزیې د ستر خطر سره مخ ده ، نو د افغان سید جمال الدین دغه نظر یې ومانه ، او د پلي کولو لپاره یې کوښښ پیل کړ ، تر څو عثماني ستره امپراتوري د تجزیې څخه وساتي ، او هم د مسلمانانو د خلیفه نوم ترلاسه کړي . سلطان عبدالحمید د پان اسلامېزم نظریه او فکر چې د افغان سید جمال الدین لخوا رامنځته شوی و ، خپل کړ او د هغه پواسطه یې غوښتل ، چې عثماني اسلامي امپراتوري د تجزیې څخه وژغوري ، خپل ځان د ټولو مسلمانانو خلیفه کړي ، او هم د دې نظریې په ملاتړ د روسیې د پراختیا غوښتنې او د انګلیس او فرانسې استعماري سیاست سره مبارزه وکړي ، خو د سلطان دغه ارمان د یهودي ماسوني ډلې په واسطه سرته رسېدو ته پرېنښودل شو .

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د سلطان له واکه ګوښه کول

سلطان عبدالحمید د عثماني خلافت (۳۴) ام واکمن و . د ده پر ضد د ځوانو ترکانو یو خوځښت د تېرې پېړۍ په اتیایمو او نوي یمو کلونو کې رامنځته شو ، دوی د یووالي او پرمختګ په نوم یو ګوند هم درلوده ، چې وتلي لیکوالان ، مفکرین ، ژورنالیستان او روشنفکران یې غړي وو . دوی د سلطان د واکونو کمول غوښتل ، دوی غوښتل چې یو ډول مشروطه سلطنت باید رامنځته او د سلطان واکونه محدود کړل شي . د یووالي او پرمختګ ګوند د پخواني قانون پلي کول غوښتل ، او هم یې غوښتنه کوله ، چې پارلمان ته باید بیا د کار د پیلولو اجازه ورکړل شي .

ډاکتر محمد صلابي لیکي :

د سلطان خبر رسوونکې اداري هغه د دې خوځښت څخه خبر کړی و ، خو اوس دا خوځښت ډېر پیاوړی شوی و ، او غړي یې په ولکه کې راوستل ډېر ستونزمن کار و ، د هغوی حوصلې ډېرې لوړې وې ،هغو د سلانیک ، مناسترا او د سوسن د سیمو خلک چمتو کړي وو ، چې د قانون د پلي کولو لپاره غږ پورته کړي ، او هم پارلمان ته د کار د پیلولو د اجازې غوښتنه وکړي . دا پېښه د (۱۹۰۸م ) کال په جولای کې رامنځته شوه . ډېر لاملونه شته چې ولې په دې وخت کې د یووالي او پرمختګ ګوند سلطان عبدالحمید له واکه ګوښه نه کړ ؟ چې یو څو یې دلته ذکر کوو :

۱ ـ په ( ۱۹۰۸م ) کال کې د یووالي او پرمختګ د ګوند سره پوره قوت موجود نه و .

۲ ـ سلطان عبدالحمید د هغوی په اړه نرمه پالیسي خپله کړې وه ، د هغوی د غوښتنو احترام یې وکړ ، او د قانون پلي کول یې اعلان کړل .

۳ ـ عثماني قوم د سلطان سره ډېره مینه درلوده . د یووالي او پرمختګ د ګوند په کمېټه کې دا جرأت نه و ، چې د فوځ دننه د سلطان پرضد پروپاګند وکړي ، ځکه فوځ د سلطان ډېر زیات احترام کاوه .

خو وروسته د( ۱۹۰۹م ) کال د اپرېل په میاشت کې ځوانو ترکانو د سلطان عبدالحمید پر ضد بغاوت وکړ ، او هغه یې د اپرېل په (۲۲) مه د شیخ الاسلام د فتوا په اساس له واکه ګوښه کړ.

(c) ketabton.com: The Digital Library



نسيم احمد ليکي :

سلطان په (۱۹۰۸م) کال کې بېرته د قانون د پلي کولو اعلان وکړ ، د قانوني مجلس د احياء کولو وروسته سلطان يو ځل بيا د قانون د لغوه کولو په فکر کې شو . په (۱۹۰۹م) کال کې حيدر پاشا لخوا د ريل ګاډي د پټلۍ د يوه ترمينل د پرانيستلو پر مهال د فوځ يوې برخې د شريعت په نوم د دې قانون پرضد ودرېدل ، او په قسطنطنيه کې يې د يووالي او پرمختګ د ګوند څو غړي ووژل ، په دې سره محمود شوکت پاشا د سلانيک څخه فوځ راوستو ، قسطنطنيې ته راغی ، باغيان يې وټکول او مشران يې ورته په دار وځړول ، د شيخ الاسلام نه يې د سلطان د معزولی فتوا د (۱۹۰۹م) کال د اپرېل په (۲۲) راواخيسته ، او د قانوني مجلس (پارلمان) لخوا يې تائيد کړه ، او سلطان يې له تخته کوز کړ ، سلطان يې د يلدز د قصر نه سلانيک ته ولېږه او هلته يې په قصر الجيش کې نظربند کړ ، چې وروسته د (۱۹۱۸م) کال د فبرورۍ په (۱۱)مه نېټه باندې مړ شو .

## ځوان ترکان

لکه مخکې مو چې ورته اشاره وکړه ، د يووالي او پرمختګ ګوند وکولای شول ، چې سلطان عبدالحميد له سلطنته لرې کړي ، او واک په خپل لاس کې ونيسي . ځوان ترکان د همدغه يووالي او پرمختګ د ګوند غړي وه ، چې د ۱۹ م پېړۍ په وروستيو کې يې لومړی پټ او وروسته په ښکاره ډول فعاليت کاوه . ډېری غړي يې د سلطان لخوا تبعيد شوي او ځينې يې بنديان شوي هم وو .

د دغه ګوند لومړني او اصلي غړي د انور پاشا ، طلعت پاشا او جاوېد پاشا څخه عبارت وو ، چې انور پاشا په آلمان کې پوځي زده کړې کړې وې ، طلعت پاشا په سالونيکا کې د تليګراف کارکوونکی و ، او جاوېد پاشا هم يو يهودی صراف و . ( ۱۰ : ۲۰ )

ډاکتر محمد صلابي ليکي :

د نولسمې مېلادي پېړۍ په نيمايي کې د عثماني قوم هغه ځوانان چې ليک او لوست يې کولای شو ، د فرانسې د انقلاب د هغو افکارو نه چې په پايله کې يې په فرانسه کې جمهوري نظام رامنځته شو ، ډېر اغېزمن شوي وو . د (۱۸۲۵م) کال په اوږدو کې د عثماني قوم دې لوستو خلکو د استانبول د يوې لرې پرتې سيمې (بلګراد) په يوه باغ کې په يوه موضوع

(c) ketabton.com: The Digital Library



باندې خبرې کولې ، دغه موضوع د سیاست سره اړیکه درلوده ، کله چې دوی د بنې څخه راووتل نو د یوې پټې ټولنې د جوړېدو پرېکړه یې کړې وه ، او موخه یې دا وه ، چې جمهوریت او یووالی رامنځته کړي .

دوی د ځانګړو کاري اصولو او لایحو درلودونکي وو ، چې تر ټولو ښه بېلګه یې لاندې پنځه اصوله دي :

۱ ـ د داسې رژیم جوړول چې په هغه کې پارلمان او اساسي قانون موجود وي .

۲ ـ د مطلقه فیوډالي نظام پر ځای د پانګوالي نظام جوړول .

۳ ـ له دین او سنتو څخه نوی تعبیر .

۴ ـ د منځنیو پېړیو د ژوندانه د زوړ سیستم پر وړاندې مبارزه او د ښاري او بورژوازي فرهنګ پیاوړي کول .

۵ ـ د سنتي ټولنیز فرهنګ عصري کول .

ښکاره خبره ده چې له دغه اصولو څخه یو هم د عثماني نظام سره توافق نه درلود ، او برعکس له دغه اصولو څخه هر یو یې د عثماني سلطنت له روشونو سره په ټکر کې وو، نو سلطان عبدالحمید هغه څوک نه و ، چې د خپلو پلارونو په شان له خنډونو سره جوړ راشي بلکې هغه یوه تېره توره وه ، چې تل به یې خنډونه ټوټه ټوټه کول ، او تر څو چې ممکنه وه هغه یې له خپلې مخې لرې کول . ( ۱۱ : ۲۲ـ۲۳ )

د ترکیې دې ځوانانو د خپلې ټولنې نوم ( اتفاق الحمیت ) کېښود ، په دې ځوانانو کې هغه شاعر هم موجود و ، چې وروسته یې ډېر شهرت پیدا کړ ( نامق کمال ) . دې خلکو فکر کاوه ، چې لومړی کار باید داوي ، چې د ټولنې خلک باید د خپلو سیاسي حقوقو څخه خبر شي ، او چمتو شي چې د لاسته راوړلو لپاره یې کوښښ وکړي . په دې ډول نصراني ټولنې ، چې د عثماني دولت څخه یې د جلاوالي غوښتنه کوله ، او نورو هېوادونو ته یې د مداخلې زمینه برابروله ، د هغوی مخه به هم ونیول شي ، او د بهر څخه د مرستو بهانه به یې هم پای ته ورسیږي . دې خلکو فکر کاوه ، هېواد چې د کومو حالاتو سره مخ دی ، د دې حالاتو ( خرابو حالاتو ) څخه د وتو یوازینی لاره د جمهوري نظام رامنځته کول دي . ( ۴ : ۴۹۷ـ۹۸ )

(c) ketabton.com: The Digital Library



ځوان ترکان څوک وه ؟ د تاریخ ترکیې لیکوالان دې پوښتنې ته داسې ځواب ورکوي : ځوان ترکان تعلیم یافته ، ذهین ، سنجیده او وطنپرست خلک وو ، په هغوی کې فوځیان او ښاري خلک شامل وو ، ځینو ځوانو ترکانو د اروپا سیاحت کړی و ، او د هغوی د افکارو او قانون ژوره مطالعه یې کړې وه،او هغه څه چې ورته ښه او ګټور ښکاره شوي وو ، ترې اخذ یې کړل.(۹: ۳۰۴)
د ابراهیم افندي ، نامق کمال ، ضیاء ګوک الپ ، خالده ادیب خانم او نورو په څېر پوه او مفکر اشخاص پکې شامل وو . ابراهیم شناسي افندي د ځوانو ترکانو د خوځښت بنسټ ایښودونکی ګڼل کیږي . دوی ټول د لویدیځ د سیاسي ، اقتصادي او ټولنیزو فلسفو او نظامونو څخه اغېزمن شوي وو ، دوی غوښتل چې په ترکیه کې باید د لویدیځ دغه سیاسي او ټولنیزې فلسفې په بشپړ ډول خپلې کړي .

ضیاء ګوک الپ د (۱۸۷۵ ـ ۱۹۲۴م) کال پورې د یووالي او پرمختګ د ټولنې ستر مفکر او فعال غړی و ، نوموړی د لویدیځ تمدن د بشپړ پلي کولو غوښتونکی و .

ابوالحسن ندوي د ضیاء ګوک الپ د یوه لیکل شوي مضمون په حواله لیکي :

موږ به خامخا له دوو لارو څخه یوه لاره ټاکو ، یا باید لویدیځ تمدن ومنو ، او یا هم باید د لویدیځ ځواکونو غلامي ومنو ، موږ ته یوه خبره فیصله کول ضروري دي ، پر موږ لازم دي چې د خپلې آزادۍ لپاره پر لویدیځ تمدن خپل اقتدار قایم کړو . (۸ : ۷۲)

نامق کمال هم د ځوانو ترکانو وتلی شخص و ، نوموړی یو معتدل او ترکي ځوان بلل شوی دی .

ابوالحسن ندوي د نامق کمال په اړه د وتلي لیکوال (برنارډ لیویس) نظر داسې څرګندوي : د خپلې هېواد پالنې او آزاد خیالۍ سره سره نامق کمال ریښتونی او جذباتي مسلمان و ، د هغه فکر دومره سوچه اسلامي و ، لکه څنګه چې د عثماني سلطنت و ، هغه پخپل ټول ژوندانه کې د اسلامي ارزښتناکو عقایدو او روایتونو پیرو و ، هغه زیاتره د خپلو ګوندونو پر مشرانو او قائدینو ډېر تېز انتقاد کاوه ، چې هغوی د پخوانیو اسلامي روایاتو په ساتلو کې ناکام شوي او له اروپا څخه یې نوي افکار او ادارې واردې کړي دي . (۸ : ۷۸)

که د ځوانو ترکانو د ټولو مخکښو نظریات په ژور ډول ولوستل شي ، نو په خپلو کې سره لږ څه توپیر لري . لکه پورته چې ولیدل شول ، د ضیاء ګوک الپ او نامق کمال د نظریاتو ترمنځ هم ژور توپیر شتون لري . ځینې ځوانو ترکانو غوښتل چې د ترکیې ټول سیاسي ، اقتصادي ، او ټولنیز

(c) ketabton.com: The Digital Library



نظام باید د لویدیځ په ډول جوړ شي ، زیاترو یې د لویدیځ تمدن د نړۍ د یوازیني تمدن په توګه قبول کړی و ، او غوښتل یې چې ترکیه باید په بشپړ ډول د لویدیځ په ډول جوړه شي ، خلافت باید له منځه یوړل شي ، او د اسلامي نظام پر ځای دې جمهوري نظام رامنځته شي ، دوی د ترکي نشنلېزم ملاتړي وو . خو داسې اشخاص هم پکې وو ، چې د لویدیځ د پرمختګونو سره یې مینه درلوده ، د هغوی د ساینس او پرمختګونو د خپلولو او هېواد ته د راوړلو غوښتنه یې کوله ، خو د لویدیځ د اخلاقو او کلتور پر ځای یې اسلامي نظام غوښته ، دې ډلې د اسلامي خلافت دپایښت غوښتنه کوله ، او نه یې غوښتل چې خلافت له منځه لاړ شي ، او ترکیه په یوه کوچني هېواد بدله شي .

د ځوانو ترکانو د حکومت درې مشرانو په همدغه ډول حکومت وکړ ، او تر پایه پورې یې د عثماني اسلامي امپراتورۍ د ټوټې کېدو مخه ونیوله ، خو د لومړۍ نړیوالې جګړې په پیلېدو سره د نړۍ نقشه بدله شوه .

د ځوانو ترکانو د حکومت او د لومړۍ نړیوالې جګړې په اوږدو کې همدغه دوه نظریې په ترکیه کې موجودې وې ، چې په پای کې هغه ډوک بریالي شول ، چې د ترکي نشنلېزم غوښتنه یې کوله ، هغوی د دې پر ځای چې عثماني امپراتوري قوي او پراخه کړي ، هغه یې رنګه کړه ، او ترکیه یې د ډېرو هېوادونو د مشرۍ نه لاس په سر کړه .

(c) ketabton.com: The Digital Library



# مأخذونه :


۱ ـ ابوریه ، محمد ، د سید جمال الدین ژوند او سیاسي هڅې ، ژباړن ، عمران فضل ، ګودر خپرندویه ټولنه ، جلال اباد ، ۱۳۹۱ لمریز.

۲ ـ انصارالحسن ، پروفیسر ، تاریخ جدید یورپ ۱۷۸۹ـ۱۹۹۷ ، خپروونکي افتخار بټ ، دویم چاپ ۲۰۰۱ م .

۳ ـ بخاري ، سید محمد فضل الله ، لومړی نړیواله جګړه ، ژباړن ، زاهد خلیلي ، مومند خپرندویه ټولنه جلا اباد ، ۱۳۹۲ لمریز.

۴ ـ صلابي ، دوکتور علي محمد ، سلطنت عثمانیه ، ژباړن ، علامه ظفر اقبال کلیار ، ضیاء القرآن پبلي کیشنز ، لاهور ، اګست ۲۰۰۸ .

۵ ـ عبدالباري ، دلبر خان ، تاریخ ترکیه ، ایورنیو بک پیلېس ، لاهور ، چاپ کال ؟ .

۶ ـ عویس ، دوکتور عبدالحلیم ، د اسلامي تمدن مړاوې پاڼې ، ژباړن ، سلطان محمود صلاح ، حکمت خپرندویه ټولنه ، جلال اباد ۱۳۹۲ لمریز .

۷ ـ مطهري ، استاد مرتضی ، په وروستیو سلو کلو کې اسلامي خوځښتونو ته ځغلنده کتنه ، خپرونکی ؟ چاپ کال ۲۰۰۹م.

۸ ـ ندوي ، ابوالحسن علي ، په اسلامي نړۍ کې د اسلام او لویدیځ والي کړکېچ ، ژباړن ، فضل مولا لټون ، خپروونکې د الهدی نشراتي اداره ، چاپ کال ۱۳۷۲لمریز .

۹ ـ هوتک ، ضیأالدین ، اروپا تاریخ ، لومړی ټوک ، ګودر خپرندویه ټولنه ، جلال اباد ، ۱۳۹۵ل کال .

۱۰ ـ هوتک ، ضیأالدین ، اروپا تاریخ ، دویم ټوک ، ګودر خپرندویه ټولنه ، جلال اباد ، ۱۳۹۵ ل کال .

۱۱ ـ هوتک ، ضیأالدین ، د آسیا تاریخ ، ګودر خپرندویه ټولنه ، جلال اباد ، ۱۳۹۲ ل کال .

۱۲ ـ www.fgulen.com د وتلي ترکي لیکوال او مفکر فتح الله ګولن وېبپاڼه ده ، چې د نړۍ په ډېرو ژبو د نوموړي لیکنې خپروي .

**Get more e-books from www.ketabton.com**
**Ketabton.com: The Digital Library**